International Organization for Migration (IOM)
Organisation internationale pour les migrations (OIM)
Organización Internacional para las Migraciones (OIM)

# افغانستان ته د ستنیدونکو لپاره د خپلې خوښې د راستنیدنې او بیا میشته کیدنې مرسته

ښاغلی/آغلې

مونږ غواړو تاسې خبر کړو چې تاسې کولای شی د آی او ایم لاندنیو مرستو ته لاس رسي ولری خو که چیرې د ؛ افغانستان ته د ستنیدونکو لپاره د خپلې خوښې د راستنیدنې او بیا میشته کیدنې مرستې ؛ پروژه کې **ستاسې برخه اخیستنه ومنل شوه.**

د پروژې په اوږدو کې به د کړوالی نړیوال سازمان لاندني کارونه ترسره کړي:

### د ستنیدنې او هرکلي مرستې:

- د ویانا په نړیوال هوایي ډګر کې د ستنیدنې پر مهال مرسته.
- د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د هرکلي مرسته (د اړتیا پر مهال).
- د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې روغتیایي مرسته (د اړتیا پر مهال).
- د خپلې خوښې راستنیدونکو ته د هغوې تر وروستي تمځای پورې ټرانسپورټي مرسته (د اړتیا پر مهال).
- د کابل جنګلک هرکلي مرکز کې تر دوه اونیو پورې لنډمهاله استوګنه (د اړتیا پر مهال).
- د ماینونو په اړه د پوهاوي مالومات.

### د بیا میشته کیدنې مرسته:

- له روانیدو څخه د مخه د ای او ام ویانا له طرفه معلوماتی غونډی
- د راستنیدنې پرمهال هر راستنیدونکي برخه وال ته د ۵۰۰ یورو نغدي مرسته ( ددې سربیره، د راستنیدونکي کورنی هر بالغ غړي لپاره ۵۰۰ یورو او د هر ماشوم غړي لپاره ۲۵۰ یورو)، تر څو افغانستان ته د راستنیدنې نه وروسته د هغوی لومړنی اړتیاوې په ګوته او پوره شي.
- **د راستنیدنې نه وروسته مشوره:** راستنیدونکي ته د خاڼي وضعیت، د هغه تعلیمي، مسلکي شالید او د هغه د ژوند د خرڅوالي پر بنسټ د موجوده فرصتونو او چانسونو په اړه مشوره.
- **د جنس په شکل د بیا میشته کیدنې مرسته** تر ۳۵۰۰ یورو پورې، د لاندې د بیا میشته کیدنې کارونو د ملاتړ لپاره:
  - **د کوچنیو سوداګریزو کارونو وده.** د وروکي سوداګرۍ د تاسیس لپاره د کاري پلان په برابرولو کې مرسته.
    - د وروکي کاروبار د پیلولو لپاره د تخنیکي او اداري مرستې برابرول (د بیلګې په ډول، د کرهنې، ویلډنګ، خیاطي، وروکی دوکانونه، د لرګیو کاروبار او انټرنیټ خونو په برخه کې، او داسې نور).
    - د اړینو موادو او الاتو پیرودل/اخیستل.
    - د پانګې او نور هر راز ملاتړ مرسته، چې د سوداګرۍ د پلي کولو لپاره اړین وي.
  - **مسلکي روزنه:** د موجوده روزنو د ګټو په اړه تشریح او تفصیلات.
  - **داخل خدمت روزنه، د کار موندنې په موخه ورپیژندل** د راستنیدونکي د مهارتونو او د خالي پوستونو د سمون خوړلو پر بنسټ ( د معاش/تنخوا مرسته، د کوچنیو پورونو ادارو ته وریپژندل، د هغو راستنیدونکو چې په روزنه کې بوخت دي د استوګنې او خوراک لګښتونه زغمل، ټول په کې شامل دي).
  - **اضافي تعلیم/روزنه** په شخصي ادارو کې چې د بیلګې په ډول خیاطی، میخانیکي، د کمپیوټر انجینري، سلماني، د وداینزو پایپونو کار، بریښنایي انجینري، کرهنیز کارونه، ژبنیز کورسونه، مالوماتي تکنالوژي، حسابداري او اداره، د ګرځنده ټیلیفون د ترمیم او داسې نورو ته خانګړي شوي وي.
  - **خانګړي مرسته** د بیوزله خلکو لپاره ( د بیلګې په ډول د رسید په بدل کې روغتیایي لګښتونه اخیستل.)

د بیا میشته کیدنې مرستې لوړه کچه به د هغې بیا میشته کیدنې کار پورې تړلی وي چې د راستیدونکي د شخصي وضعیت او اړتیا پر بنسټ غوره شوی وي. خانګړی توجه او پاملرنه به هغه راستنیدونکو ته وي چې خانګړې اړتیاوې لري ( د بیلګې په ډول، هغه کورنۍ چې یو د والدینو یې ژوندی وي، بې سرپرسته ماشوم، بوډا او د انساني قاچاق ښکار شوي، او داسې نور).

آی او ایم به تر نهایي بریده هڅه وکړي چې تاسې سره په افغانستان کې ستاسې د ستنیدنې او بیا میشته کیدنې پر مهال مرسته وکړي.

ددې لپاره چې تاسې خپل شخصي کاري پلان ښه په تفصیل سره تیار او وځیرئ، مونږ تاسې نه غواړو چې **د ستنیدنې څخه وروسته تر دوه میاشتو پورې د آی او ایم نږدې دفتر سره اړیکه ونیسی.** په یاد ولرئ چې دوه میاشتې وروسته د بیا میشته کیدنې د مرستو هیڅ ضمانت نشته. کله چې تاسې په افغانستان کې د آی او ایم دفتر ته ورځئ نو **د کاري وختونو پوره خیال وساتئ او خپله پیژند پاڼه** ( ملی پاسپورټ، د ډرایورۍ لایسنس او یا هم تذکره) **درسره راوړئ.**

**آی او ایم کابل**
د کډوالی نړیواله اداره
انصاري واټ، د کور شمیره ۱۰۹۳، د پځوانې
UNICA میلمستون تر شا، نوی ښار

د ټیلیفون شمیره: ۰۰۹۳۲۰۲۲۰۱۰۲۲
د موبایل شمیرې: 358 870 0799/ 324 870 0799
بریښنا لیک: iomkabul@iom.int
د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې

| په افغانستان کې د آی او ایم ساحوي دفترونه: | | |
|---|---|---|
| **آې او ایم بدخشان**<br>د کډوالۍ نړیواله اداره<br>د شاه عبد الله کور، ۱ کوځه، د GTZ او FAO دفترونو ته مخامخ، فیض آباد<br>د ګرځنده ټیلیفون شمیره:<br>۰۰۹۳۷۰۰۷۰۸۴۶۹۷۳۳<br>د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې | **آې او ایم ګردیز**<br>د کډوالۍ نړیواله اداره<br>د ملګرو ملتونو کمپاونډ<br>د ګرځنده ټیلیفون شمیره:<br>۰۰۹۳۷۹۹۰۰۴۸۳۶<br>د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې<br>= | **آی او ایم هرات**<br>د کډوالۍ نړیواله اداره<br>د HMAC کمپاونډ، د کارګر پارک سره څوا کې، د هوایې ډګر سرک، هرات<br>د ګرځنده ټیلیفون شمیره:<br>/۰۰۹۳۷۹۹۳۲۲۲۳۵۵/۰۰۹۳۷۰۰۴۰۰۲۴۷<br>۰۰۹۳۷۰۰۴۰۴۱۱۷<br>د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې |
| **آی او ایم کندز**<br>د کډوالۍ نړیواله اداره<br>د کور شمیره ۴۶۳، د امنیت کوځه، د کندز ښار<br>د ګرځنده ټیلیفون شمیره:<br>۰۰۹۳۷۰۰۰۴۸۱۴۹<br>د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې | **آی او ایم مزار شریف**<br>د کډوالۍ نړیواله اداره<br>د سید اباد سرک، د امام مهدي تکیه خانه ته مخامخ، مزار شریف<br>د ګرځنده ټیلیفون شمیره:<br>۰۰۹۳۷۹۶۶۷۹۴۹۸<br>د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې | **آی او ایم بامیان**<br>د کډوالۍ نړیواله اداره<br>د بامیان ښار، د هوایې ډګر جنوب ته، سر اسیاب کلی<br>د ګرځنده ټیلیفون شمیره: ۰۰۹۳۷۷۴۶۲۱۸۹۳<br>د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې |
| **آی او ایم کندهار**<br>د کډوالۍ نړیواله اداره<br>د ډنډ خلور لارې، نوی ښار، د میرویس روغتون ته څیرمه<br>د ګرځنده ټیلیفون شمیره:<br>۰۰۹۳۷۰۲۳۵۰۴۲۷<br>د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې | **آی او ایم جلال آباد**<br>د کډوالۍ نړیواله اداره<br>۳ زون، د صحت عامه روغتون تر شا، د یو این ایچ سي آر دفتر سره نږدې، د جلال اباد ښار<br>د ګرځنده ټیلیفون شمیره:<br>۰۰۹۳۷۷۵۹۵۶۲۶۶/۰۰۹۳۷۹۹۴۰۶۷۳۸<br>د یکشنبې څخه تر پنجشنبې، د سهار د ۸ بجو څخه د مازیګر تر ۵ بجو پورې | |

دغه پروژه د اتریش د کورنیو چارو فدرالي وزارت لخوا تمویلیږي
REPUBLIC OF AUSTRIA
FEDERAL MINISTRY OF THE INTERIOR